عبدالرحمن فرقانی ۲۰۱۰/۰۶/۱۱م

# دعیسویت حقیقت او په اسلامي نړۍ کې يې دترويج هڅې

له څو پيړيو را پديخوا دنړيوال صهيونيزم ترخنګ دلويديځ استعماري قوتونو، لوی زيار په لاره اچولی، چې د اسلامی نړۍ په هيوادونو کې تحريف شوی عيسويت ترويج کړی، او په اسلامی ارزښتونو باندې آباده او ولاړه اسلامی ټولنه په خپلو تحريف شويو او دخرافاتو نه ډکو ارزښتونوباندې بدرنګه کړی ، هغه ربانی ارزښتونه چې الله تعالی د بشريت د سوکالۍ او هدايت لپاره د انبياءو په ذريعه بشريت ته رالېږلی ، په هغو ارزښتونو بدل کړی چې د انسان د هوا او هوس او نفسی خواهشاتو په اثرکې رامنځ ته شوی دی. او په پای کې ورته د ربانی ارزښتونو رنګ ورکړ شوی دی .

د اسلامی نړۍ په ګوټ ګوټ کې زيار ايستل کيږی چې اسلامی شريعت د قانون په څير حاکم نوی ، او پرځای يی د لويديځ مدنی قانون پلی وی، او په ډيرو اسلامی هيوادونو کې د ديموکراسۍ تر شعار لاندې کار ته زمينه برابره شوی هم ده ، چې افغانستان هم يو لدغو هيوادونو حخه دی . اوس مهال چې د اسلامی نړۍ په هيوادونو کې کومې هڅې رواني دی، هغه پدې منظور رواني دي چې له اسلامی نړۍ څخه د اسلام د سپيڅلی دين ټغر ټول شی ، او پرځای يی هغه ارزښتونه چې انسان د خپل هوس مطابق مطرح کړی ترويج کړی .

د دې ناوړه هڅوترڅنګ د اسلامی نړۍ په هر ګوټ کې د اسلامی حرکتونو د پاڅون په وړاندې ، استعماري قوتونه په مشترک ډول لوی زيار باسی، چې د اسلام د احيا اړوند پاڅون پياوړی او پراخه نوی . خو د بشريت په تاريخ کې يوازی اسلام هغه دين دی چې د بشريت ټولې اړتياوې پرځای کولی شي ، د اسلام د دين حقيقت ډير لوی دی ، داسلام تنه ډيره ژوره ده ، او دا راز کوښښونه اوهڅې د اسلام د بيا راګرځيدلو او احيا په لاره کې نشي خنډ کيدلای ، او نه به دا وحشي ګزارونه د اسلام د احيا اړوند اغيزمن وی ، نو لدې کبله د اسلامی نړۍ په هر ګوټ کې د اسلام د احيا لپاره اسلامی حرکتونه شته دی.

دعيسويت حقيقت څه دي؟ او څه ډول په عيسويت کې د ربانی تصور ځای بشری تصوراشغال کړی دی؟

دعيسويت دتکوين اوجوړښت اړوند مالومات او هغه خرفات چې د ربانی ارزښتونو ځای يې په عيسويت کې اخيستی دی ، پدې هکله د اسلامی نړۍ د لوی مفکر ابو الحسن ندوی (رحمه الله عليه ) له کتاب (ماذا خسر العالم عن انحطاط المسلمين ) څخه مې دا لاندې مالومات راژباړلی دي ، او ستاسو توجه ورته راړوم .

هغوی وايی :

"عيسويت له يهوديت نه وروسته د بني اسرائيلو لپاره د ژوندانه د يوې معتدلې تګلارې په څيرراغي . خو يهودانو د عيسی عليه السلام رسالت قبول نه کړ ، هغه تخفيف چې د دوي لپاره يې د الله جل جلاله له لوري راوړي و، ونه مانه . او د عيسی عليه السلام په وړاندي د مقابلې لپاره راولاړ شول، د هغه د دعوت په وړاندي ودريدل ، کوم چې سولې ، پاکۍ او روحي تهذيب ته يي بلنه کوله ، خلک به يي د هغو رواجونو څخه ژغورل ، چې له دين سره بې تړاو نه درلود . يهودان دومره ګمراه شول چې په شام کې روماني حکمران (بيلاطس) ولمسول ، تر څو عيسی عليه السلام و وژني ، او (صليب) يې کړي، که چيري د عيسی عليه السلام مرګ دالله تعالی په لاس کې نوي ، او دې يې د ځان لوري ته نوي پورته کړي.

لدې وروسته د يهودانو او عيسويانو تر منځ حالات دير ستونزمن شول ، د عيسويانو په زړونو کې د يهودانو لپاره کينه بغض دښمني راوپاريدله، همدا راز د يهودانو زړونه د عيسويانو لپاره د دښمنۍ او حسد څخه ډک وو ! نوعيسويان له يهودانو څخه بيل شول، عيسويت له يهوديت څخه جلا شوو ، حال دا چې عيسويت په اصل کې د دې لپاره راغلي وو ، تر څو يهوديت نوي کړي، اوپه احکامو کې يې لږ بدلون رامنځ ته کړي، د روحي اړخ احيا يې له سره وکړي ، همدا راز يې د اخلاقي اړخ تهذيب وکړی ، چې د عيسی عليه السلام په دعوت کې په روښانه ډول ورباندې ټينګار کيږي.

خو کله چې دا بيلتون او حسد د يهودانو او عيسويانو په منځ کې راغي، نو لدې سره د يهودانو کتاب تورات د عيسويانو په اند د انجيل څخه بيل شو، سره لدې عسويانو د تورات او نورو آسماني کتابونو تقدس پر ځای کاوه . دعيسويانو شريعت او قانون هم له تورات څخه بيل شو حال دا چې د دوي د شرعت (جسم) لويه برخه په تورات کې وه .. نو ددې بيلتون په اساس عيسويان له يوه ځانګړی شريعت نه محروم شول چې بايد د دوي عملي ژوند يي تنظيم کړي واي!

مګرهغه اعتقادي تصور چې عيسی عليه السلام د الله تعالی له لوری راوړي و، که سم او سليم پاتي شوي وی ، نو کولاي يې شول, چې پدې کون کې د انساني وجود د مقصد اوموخې اړوند صحيح او سم تفسير وړاندي کړي .. هغه تفسير چې بشري ټولنيز نظام په سمه توګه پرې ولاړيدلاي شي. او همدې تصور کولاي شول که سليم پاتي شوي وي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

, چي عيسويان هغه شريعت ته راوا‌ړوي , کوم چي په تورات کي نغښتي وو، دهغو بدلونونو سره کوم چي عيسى عليه السلام دعبادت د تخفيف او د ژوندانه د بار د کمښت لپاره د الله تعالى له لوري راوړي وو.
خو عيسويان د يوې اوږدې مودې لپاره د بي دينه يهودانو او بت پرسته رومانيانوچي هغه مهال يي د عيسويانو پر وطن حکومت کاوه، له سخت ظلم او تجاوز سره لاس گريوان شول.
لدې کبله دعيسى عليه السلام شاگردان (حواريون) او د هغوي اتباع د ديرې مودې لپاره مجبورشول , چي خپل کار او تگ راتگ په پټه توگه تر سره کړي، همدا راز مجبور شول چي د انجيل متنونه او دعيسى عليه السلام تاريخ يو بل ته نقل کړي ځرنگه چي دا ليږدونه او نقل په سري او پټه توگه تر سره کيدل نو ځکه په دقت او تواتر نه نقليدل .. نو لدې کبله د انجيل متنونه د عيسى عليه السلام له تاريخ سره گډ نقل شول، د انجيل نسخې ځيني له نورو څخه توپير لري چي په ټولو د انجيلونو نوم کيږودل شو. پدې انجيلونو کي د مسيح عليه السلام د شاگردانو خبري او ددوي روايتونه د عيسى عليه السلام په هکله شامل دی ، چي په لمنځ کي يي ځني د عيسى عليه السلام خبري راغلي دي ..
تر ټولو مخکيني انجيل د عيسى عليه السلام نه وروسته د يوه مکمل نسل د تيريدو نه وروسته ليکل شوي دي ، او عيسويان يي دې تاريخ په هکله سره ژور اختلاف لري ، چي دځلويښتو او شپېږ ځلويښتو کلونو په شا او خوا کي تخمينيږي ، همدا راز يي د ژبي په هکله سره اختلاف لري چي په کومه ژبه ليکل شوي و .. ځکه چي اوس يي يوازي ژباړې موجودې دي.
په اوروپا کي د عيسويت دخپرولو مسوليت د هغه وخت د پاپ - چي عيسى عليه السلام يي نه و ليدلی، او د روماني بت پرستی څخه عيسويت ته داخل شوي و – په نصيب شو ، دا عيسويت چي د ده د بت پرستی اواغريقي فلسفي دزاړه تصورنه اوبه شوي و.. همدا عيسويت په اوروپا کي پرړباني عيسويت باندي دلومړيو ورځونه د بربادی توپان و. دا سربيره په هغه تحريف چي عيسويت ورسره دروماني امپراتورۍ په لومړۍ مرحله کي مخ شو . هغه مرحله چي شرايط يکښي د روايانونو نقلولو ته په متواتراو دقيق ډول تيار نه و!
لدې وروسته په لومړيي پيړۍ کي پاپ خپل رسالي وليکلي ، او دا رسالي پدې شهادت ورکوي چي ديني مثالونه پکښي د فلسفي تصور سره گډ شوي – په تيره بيا د حلول فلسفه, او دير ځله يي عيسى عليه السلام پدې نامه ياد کړي :
" زموږ پروردگار يسوع مسيح "! اوپر خپل ځان يي داسي نوم ايږي دی:" د الله تعالى اوزموږ رب يسوع مسيح په امر د يسوع مسيح رسول ".
خولوي توپان له هغي پيښي وروسته رامنځ ته شو، کومه چي عيسويت ته لوي بري گټل کيده ، او هغه د روماني امپراتور (قسطنطين) داخليدل په عيسويت کي وو، په کال ۳۵۵ م کي د عيسويت حزب وکولي شول تر څو د حکومت واږي په لاس کي واخلي . امريکايي ليکوال درابرپه خپل کتاب ( دين او علم ) کي دا پيښه او دهغي کرغيړني اغيزې داسي توصيفوي وايي :
( په عيسويت کي شرک او بت پرستي د هغو منافقينو له لارې ور گډ شول , چي په روماني دولت کي يي خطرناکي دندې او منصبونه درلودل ، د دوي د تظاهر له امله چي ځانونه يي عيسويان بلل خو دين ته ريښتني نه وو ، تحريف رامنځ ته شو، او يوه ورځ هم دين ته مخلص نه وو .. او همدا راز د (قسطنطين )عمر ټول په ظلم او فسق او فجور کي تير شو؛ او د کليسا ديني اوامر يي نه پرځاي کول ، پرته د عمر په آخرو څو ورځو کي په کال ۳۳۷م کي ) .
د عيسويت ډله سره لدې چي دومره پياوړې وه چي د روم پادشاه قسطنطين هم پکښي گډ شوي و ، خو د ونشوي کولاي , چي د بت پرستی لکی غوځه کړي ، او ميکروب يي ووژني. بلکي د مبارزې پايله يي دا وه چي د ارزښتونوسره يي نور پردی ارزښتونه (بت پرستي ) گډ شي، اولدې څخه يو نوی دين نشأت وکړ ، هغه دين چي عيسويت او بت پرستي پکښي پر يو ځاي او يوه پيمانه راښکاره شوه. د لته دا يادونه گټوره ده چي اسلام پدې هکله له عيسويت څخه توپير لري ، ځکه چي اسلام خپل سيال ( بت پرستي ) بالکل له منځه يووړ، او لکه عيسويت ورنه متاثر نشو.
دا امپراتور چي د مادياتو غلام او بنده و، او ديني عقايدو ورته هيڅ اهميت او اعتبارنه درلود ، د خپل شخصي مصلحت لپاره او د دو سيالو حزبونو- بت پرستي او عيسويت - د مصلحت لپاره يي تصميم و نيو چي دواړه سره يو ځاي کړي . خو دا نوي دين - وروسته لدې - د بت پرستی له نجاست او چټلی څخه هيڅ کله هم پاک نشوو- ځرنگه چي راسخ او پاخه عيسويانو هيله من وو, چي پاک به شي- او همدا راز عيسويت د بت پرستۍ په تصور او خيالونو کي ښکيل پاتي شوو".
نو لدې کبله اړتيا پيدا شوه چي د بشريت د لارښونه لپاره، پر ربانی تصور باندې ولاړ دين (اسلام ) د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ذريعه بشريت ته نازل شی ، خو دا ځل دغه دين (اسلام ) له هر ډول بشری لاسوهني نه د الله تعالى په امر محفوظ دي .
نړيوال صهيونزم او استعماری قوتونه له پيريو را پديخوا ستړی شوی دی ، چي د دغه ربانی دين اسلام تغر ټول کړی ، خو ځرنگه چي د ربانی لارښوني (اسلام )او بشری نظامونو تر منځ پرتله کيدلای نشی ، او ځرنگه چي له اسلامه پرته بل دين د بشريت د لارښوني لپاره سليم پاتی نشو . نو لدې ځايه عيسويت لکه دين نشي کولای په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اسلامی ټولنو کې د اسلام دین ته ګواښ شي ، څکه چې عیسویت د دین په څیر په خپلو ټولنو کې د خلکود اخلاقی ، روحی ، ټولنیزو اړتیاو له پوره کولو پاتی راغلی دی ، د دین په نامه خلک له هر راز حقوقو څخه منع کوی ، پداسې حال کې چې د دینی موسسې (پاپان ) په هر ډول اخلاقی فساد باندې ککړ دی .
خو د هغه اخلاقی فساد او بې حیایي اړوند چې د اشغال په پایله کې زموږ ټولنه ورسره لاس ګریوان ده ضرور ویره شته ، چې افغانان بې لاری کوی او دتباهی لوری ته یې وړی ، د تمدن او پرمختګ له بهیر څخه یې وروسته پاتی کوی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ